# دم شوي توري

(د لنډکيو شعرونو ټولګه)

Ketabton.com

یاسمین وزیري

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دم شوي

# توري

یاسمین وزیري

۱۳۹۴ال کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: دم شوي توري

لیکواله: یاسمین وزیري

خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

کمپوز: لیکواله

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۱۲۲)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دم شوي توري

دا دم شوي توري

و لوله!

ډاریږه مه!

پوهیږم په تا اغیز نه کوي

زړه دې ډبرین

دی!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیلیزه

شعرد احساساتو او افکارو د بیان یوه غوره وسیله ده. په شعر کې د جذابیت راز په خیال، فکر، تصویر او موزونه ژبه کې پروت دی، له یوې خوا د لفظي موزون جوړښت له مخې په انسانانو ښه لګېږیاو له بلې خوا له هغو تمایلاتو سره مل وي چې له رقیقو احساساتو سرچینه اخلي.

که څه هم له لنډیو او شعرونو سره زما اړیکه له ډېر پخوا یعنې ماشومتوب څخه ده خو د لنډکیو شعرونو سره مې په دې ورستیو کې مینه پیدا شوې ده .هم یې لولم او هم یې لیکم ،خوند ترې اخلم هر تصویر پکې انځورم ،هره خوشحالي، خندا، ناهیلي او درد ته مې پناه پکې ورکوم. د لنډکیو شعرونو شیرینه او بېله دنیا ده.

دا شعرونه لنډ او د قافیې له بنده ازاده دي، له همدې توسنه مې هم ورسره جوړه ده، شاعر ټوله خبره نه راځېړي اکثراً نیمه خپلو مخاطبینو ته پرېږدي دا یې زما په ګومان بل کیف دی چې لوستونکی ورسره ملګری کوي چې وروسته یې دی خپله بشپړ کړي .

دا چې تر کومه به مې دا رسم سم پاللی او لیکلي وي نو دا قضاوت به لوستونکو ته پرېږدم خو د لومړني کار په توګه یې تاسو ته وړاندې کوم.

په دې ورستیو کې د دې شعري فورم مینوال ډېر زیات شوي دي او لیکوالان یې هم ،خو زه له خپلو ټولو دوستانو څخه ډېره مننه کوم چې زه یې و هڅولم تر څو داسې لنډکي شعرونه ولیکم.

همدا راز له ښاغلي استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون څخه نړۍ مننه کوم چې دا اثر یې چاپ ته وړاندې کړ.

هیله ده چې دا ( دم شوي توري ) مو په مهین خاطر بوج نشي

په درنښت

یاسمین وزیري

کابل -افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سريزه

د هينداري حافظه لټوم
ګونډي چې هلته
دې پيدا کړم

د آغلې ياسمين وزيري د لنډکيو شعرونو د کتاب پاڼې مې چې څنګه واړولې په دغه پورتني شعر مې سترګې ولګېدې، خوښ مې شو او ددې لنډې ليکنې د پيل لپاره مې راواخيست.

آغلې ياسمين وزيري د مېرمن کلتوري – ټولنيز بهير فعاله غړې ده، چې ددغه بهير په اوونيزو غونډو او د کره کتنې په غونډو کې تل فعاله ونډه لري. تر اوسه پورې يې د داستاني ادبياتو، څېړنې او شعرونو په برخه کې څو کتابونه خپاره شوي دي. د نوموړې پر کتابونو د مېرمن بهير له خوا دوه ځله د مخکتنې غونډې جوړې شوې دي.

آغلې ياسمين وزيري د هغو ګوتې په شمار افغان پېغلو له جملې څخه ده چې ادبيات يې د يوه مسلک په توګه زده کړي او تل له ادبياتو سره پاتې شوې ده. هر وخت چې خبرېږم يا د هغې نوی کتاب چاپ شوی وي، يا يې د کتابونو په اړه غونډه وي او يا هم پخپله پر کوم څېړنيز کار بوخته وه ياسمين د ادبياتو په برخه کې ماستري لري او نن سبا د ادبياتو په برخه کې د دوکتورا د اخيستلو په هڅه کې ده. د نوموړې کيسې مې لوستې دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيسې يې خپلې ځانګړنې لري، زياته برخه يې د افغان مېرمنو محروميتونو ته ځانګړې شوې دي، پښتو ته يې له نورو ژبو څخه ژباړې کړې دي او د شعرونو کتابونه يې هم خپاره شوي دي، آغلې ياسمين وزيري په دې ټولو ډګرونو کې برياليۍ برېښي.

له نېکه مرغه په دې وروستيو کې يې د لنډکيو شعرونو ليکلو ته هم مخه کړې ده ، چې ددې د شاعرۍ په سفر کې يې يو نوی ګام بللی شو.

له ذهن مې و ايستې

هېر کړی مې يې

له حافظې مې هم پاک کړې

خو زړه دې لا هم يادوي

آغلې ياسمين وزيري پخپله وايي ((که څه هم له لنډيو او شعرونو سره زما اړيکه له ډېر پخوا يعنې ماشومتوب څخه ده خو د لنډکيو شعرونو سره مې په دې ورستيو کې مينه پيدا شوې ده .هم يې لولم او هم يې ليکم ،خوند ترې اخلم هر تصوير پکې انځورم ،هره خوشحالي، خندا، ناهيلي او درد ته مې پناه پکې ورکوم. د لنډکيو شعرونو شيرينه او بېله دنيا ده....)

د نوموړې په يو شمېر لنډکيو شعرونو کې د لنډيو خوند شته چې ډېر په زړه پورې دي:

نن مې روح مسکا کوي

دا ځکه چې غمونو ته يې

د پای ټکی کېښود

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

دسترگو ژبه مې زده کړې
که گونگې یې نو راشه
د زړه خبرې دې د سترگو
په ژبه را سره سرشریکې کړه

***

د دریاب پر موجونو
د کبانو پر نڅا او ټوپونو
ستا د بې قراره زړه او سترگو
تصویر انځوروم
ذهن ته یې سپارم

***

اې!
ته پوهېږې چې
د مسکا ژبه مې د ماشومتوب
او د ښکلا ژبه وه
خو د غمونو او دردونو ژبه
چې ژړا ده تا را زده کړه

د آغلې یاسمین وزیري لنډکي شعرونه د هغې د نورو شعرونو په پرتله هنري او د وړو شېبو ډېره په زړه پورې انځورگري ده، خوشحاله یم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاسمین وزیري اوس د کمیت تر څنګ کیفیت ته هم توجه کوي، که هغه خپلو ادبي هلو ځلو ته همداسې دوام ورکړي او په همدې مینه له شعر او ادب سره پاته شي ، ټینګ باور لرم چې آغلې یاسمین وزیري به یو وخت زموږ ددې برخې د سر کتار شاعرانو په منځ کې خپل ځای ومومي.

د آغلې یاسمین وزیري دغه لنډکي شعرونه په غور ولولئ، خوند ترې واخلئ او په اړه یې قضاوت وکړئ، تاسې قدرمنو لوستونکو ته د ښه خوشحاله ژوند او آغلې یاسمین وزیري ته د نېکمرغه عزتمن ژوند او خپلې ژبې او ادب ته د خدمت په لاره کې لا بریو دعا کوم.

په مینه په درنښت

علم ګل سحر

کابل- ارګ

۱۲/ ۱۲/ ۱۳۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمړ شوي توري او زما نظر

یاسمین وزیرۍ د پښتو ژبې او ادب په ډگر کې پېژندل شوي څېره ده ، ما د دې ډېر کتابونه لوستي دي ، او هر کتاب یې چې ما لوستلی دی خدای شته ما ترې خوند اخیستی دی په ځانگړې توگه یاسمین وزیرۍ د شعر په ډگر کې د ښځینو احساساتو په ښه توگه نمایندگي کړې ده ، اوس یې زما په وړاندې نوي شعري ټولگه (دمړ شوي توري) پرته ده په دې ټولگه کې وزیرۍ لنډکي شعرونه لیکلي دي ، دغه کار تر دې وړاندې هم په پښتو شاعرۍ کې شوی دی ما دې ته ورته لنډکي شعرونه د ومان (نیازي) لوستلي و او ما یوه لیکنه هم پرې کړې وه ، اوس دلته په دې یوه پاڼه کې پردې شعرونو نظر ورکول راته گران کار ښکاري ، د دې لنډکي شعرونه چې دې لیکلي دي  او یوه ښه ټولگه یې ترېنه جوړه کړې ده نو لازمي خبره ده چې د چاپولو وړ ده ، نو پکار دی چې مونږ د دې شعرونه په ډېر شوق سره ولولو او نقادانو له په کار ده چې د دې پر شعرونو خپل خپل نظرونه څرگند کړي ، او ماته دلته نظر وړاندې کول  په دې هم گران دی ، چې دا ټول شعرونه دمړ شوي دي نو پر دمړ شویو څیزونو باندې زما د قلم توري هیڅ اثر نه کوي ځکه چې زما قلم  دمړ شوی نه دی نو دلته په پای کې له دمړ شویو تورو څخه یو سور گلاب راوړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سور گلاب

نن مې پسرلنۍ هوا حس کړه
د مرغانو چغهار او نڅا مې ولیده
ستا خوشبویه عطر مې د گلانو د خوشبويي سره احساس کړه
ځکه اوس لکه سور گلاب غوړېدلې یم

صادق ژړک
کابل افغانستان
۱۵/۱۲/۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دم شوي توري

مخکې له دې چې د یاسمین جانې په دم توري شوي باندې بحث وکړم غواړم د لنډکیو شعرونو په اړه یو څه وکښم دا یوه څرګنده خبره ده چې د ژوند په هره برخه کې د وخت په تېرېدو سره ځینې مسایل په خپل حال نه پاتې کیږي بلکې بدلون مومي او کله کله خو نوښتونه هم رامنځته کېږي چې شعر او ادب هم دغه بدلون مني. همدا راز پښتو ژبه هم د نثر او نظم په برخه کې د نړۍ له ادبیا تو څخه اغېزمنه شوې ده په ځانګړي ډول په تېرو دورو کې د عربي،فارسي او هندي شعر او شاعرۍ اغېز پکې له ورایه ښکاري خو د معاصرې دورې په دې وروستیو کلونو کې  د غربي ژبو د ادبیاتو تر اغېز لاندې راغلې ده لکه سپین شعر،هایکو لنډکي شعرونه او داسې نور دي چې لنډکي شعرونه تر دې نورو فورمونو ډېر ورستي دي. لنډکي شعرونه هم ځانته جلا خوند او رنګ لري.

زما په اند دا ډېر ښکلي لنډ ادبي او هنري نثرونه دي نه شعرونه ځکه چې د شعر اساسي رکن وزن او قافیه ده چې په بیتونو کې مراعاتیږي حال دا چې لنډکي شعرونو کې دا نه لیدل کېږي خو منځپانګه یې ښکلی احساس لري،کله کله داسې بریښي چې لنډکی شعر د آزاد نظم یو ډول وي چې ډېر لنډ خو له تخیل،احساس او ښکلو کلماتو څخه ډک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر صورت دغه ډول فورمونه چې له نورو ژبو څخه را واخیستل شي په لومړي سر کې لږ څه ستونزې لري تر څو پوخوالي ته ورسیږي لکه هایکو چې له اره درې مسرې دي،لومړۍ یې پینځه (۵) څپې ،دویمه اووه(۷) څپې او دریمه بیا پینځه(۵) څپې دي خو کله چې پښتو ادب ته وردننه شوې یو څه بدلون د مسرو په څپو کې را منځته شوی دی،زما په اند د فورم په اصل کې بدلون د فورم د بدلون سبب گرځي او بیا ورته بل نوم ټاکل اړین بریښي.

په هر حال راځو د آغلې یاسمین جانې لنډکي شعرونو ته چې دم شوي توري نومیږي.

ښکلی اثر دی،تشبیهات او خوندور الفاظ لري،تخیل یې هم ښکلی دی،عجیبه خبره خو دا ده چې دا ټول اثر بلکې هر یو لفظ یې یوازې او یوازې په یوې موضوع را څرخي دا هم د آغلې شاعرې کمال دی چې عین مفهوم په دومره ډیرو بېلابېلو الفاظو وړاندې کوي.

زه به ورته وایم چې:

یاسمین خورې!

د ادب گلبڼ گلونه لوبوې

ښکلې پاڼې ټولوې

عطرونه خوروې

بس

زړونه لرزوې!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هیله مې ترې دا ده چې د ژوند هر اړخیزه انځورونه وکړي تر څو د هر یو وګړي په دې ښکلې هینداره کې ځان ووینې.

لکه څرنګه چې رنګا رنګ الفاظ یې ښکلي اوډلي که معنا هم رنګینه کړي نو شعریت به یې لا پسې ښکلی شي، کاظم خان شیدا وايي:

مضمون د شعر لکه پیکر

رنګین الفاظ یې رخت و زېور وي

ورته په کار دي دا دواړه توکه

پیکر که هر څو دلربا تر وي

په پای کې آغلې وریزې خور ته د دې اثر د پنځولو مبارکي وایم د لا بریاوو هیله یې لرم.

په درنښت

پوهنیاره آریانا حقپال

کابل پوهنتون

۱۳۹۴/۱۲/۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما ربه!

هر انځور دې ښکلی دی
د مخ روښنايي دې زما
سترګې و نه برېښوي
اې زما ربه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حاکمیت

د ژوند په ګوډ ګوډ کې مې
دردونو او غمونو حاکمیت
پیل کړی دی
خوشحالۍ ته لار نه ورکوي
چې د زړه تیاره خونې ته
دننه شي او هرڅه رڼا کړي

# سوله

سترګې مې د زړه سره په جنګ دي
ورته وایي:
ولې دي د مینې راز و نه شو ساتلی؟
زما خو هیڅ نه مني
هره ورځ د دوی جنګ وي
اوس نو ته د دوی تر منځ سوله کوی شې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## معجزه

پوهېږې!
ستا بېرته راتګ زما په لور
ما ته یوه معجزه ده !!!

## تمثیل

چا راته وویل چې خوشحالۍ ولیکم
خو زه څه وکړم؟ زه څنګه کوی شم
د غم په رنګونو خوشحالي انځور کړم؟
زړه او ذهن مې له دې کلمې سره اشنا نه دي
خوشحالي يې نه لیدلې نه یې لمس کړې او نه یې حس کړې
اصلا د خوشحالۍ څخه وېرېږي
خوشحالي نه پېژني
خو بیا هم هڅه کوم چې
د غمونو د هېرولو تمثیل زده او
خوشحالیو ته هرکلی ووایم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سور گلاب

نن مې پسرلنۍ ښکلې هوا حس کړه
د مرغانو چغهار او نڅا مې ولیده
ستا خوشبویه عطر مې د گلانو له خوشبویي سره احساس کړه
ځکه اوس لکه سور گلاب غوړېدلې یم

## انتظار

پوهېږې!
ته چې په سفر لاړې
ما هره شپه ستا په یادونواو
انتظار تېروله خو ته را نه غلې!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فضا

دښکلي څېرې په فضا
کې یې غبار لیدل کېده
ژبه یې د حیا خاموشي خپله کړې وه
خو په سترګو کې یې
راټولې شوې وریځو نغمې
پیل کړې
د باران په څېر داسې نغمې
یې وغړولې چې ډېره موده به یې
د زړه دښته له وچکالي وژغورل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نا پوه زړګی

اې!
زما نا پوه زړګیه!
نه پوهېږم ته لا هم چا ته
په تمه یې چې اوښکو پاکولو
ته به دې راځي؟
چا چې دا اوښکې درلورولې
هغه ډېر لرې تللی او ته یې هېر کړې

## ځنګل

زه د خپل زړه په تور ځنګل کې
نن ستا ټول یادونه او خپلې
هیلې پانسۍ کوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سره وینه

د قسمت سره شوې وینه مې
د بدمرغۍ په اور تودوم
ګوندې چې تقدیر او
د تندې کربښې مې بدلې شي

## لمس

اوس چې دې زما زړه لمس
کړ وواېه چې څه یې
درته وویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حافظه

د هینداري حافظه لټوم
ګونډي چې هلته دي
پیدا کړم

## اوښکه

اې تاته وایم!
غواړم تل دې لکه اوښکه
په ښېو کې له هر چا پټ وساتم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شهيدان

ستا لپاره مې ټول ګلان شهيدان
کړل،سرونه مې ترې پرې کړل
وينې مې ترې  وبهولې
ستا د راتلو په تمه
خو ته را نه غلې!

## درد

نور دې نه يادوم
لکه درد په زړه کې
دې پټ ساتم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خوند

ډېر خوند راکوي ستا
نه راتګ او زما
اوږد مهالی انتظار!!!

## ګونګی

د سترګو ژبه مې زده کړې
که ګونګی یې نو راشه
د زړه خبرې دې د سترګو
په ژبه را سره شریکې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خوب

شپې مې مړ په خوب ولیدې
چیغې مې کړې
د وجود له څانګې مې ستا د
یادونو مرغۍ والوتې!

## روح

نن مې روح مسکا کوي
دا ځکه چې غمونو ته یې
د پای ټکی کېښود!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سیلاب

ستا ټول یادونه مې
نن د سترګو سیلاب ډوب کړل!

## حاجت

نورو خبرو ته حاجت نشته
زما او ستا روح په خبرو
ښه پوه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تخنېدل

پسرلی راغی
د ګلانو له تخنېدو سره
زما خوشحالۍ يې هم و تخنول
او غمونه يې رانه په مخه کړل

## ذهن

له ذهنه مې و ايستې
هېر کړی مې يې
له حافظې مې هم پاک کړې
خو زړه دې لا هم يادوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اوښکو چینه

د اوښکو چینه مې په خوټېدو شوه
بیا زړه ور یاد کړی یې
کنه ما خو ډېر پخوا هېر کړی وې

## دریڅه

د زړه له دروازې مې و ایستې
د ذهن له دریڅې دې هم اوس اوباسم
نور به د نوم وا نه خلم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ظالم

ته ډېر ظالم يې له ما نه دې
هر څه واخيستل
زمونږ اړيکه
زمونږ مينه او يادونه
ان تر ټولو نږدې کس دې
هم رانه واخيست

## ديوان

ته مې د خوښيو او غمونو هغه
په زړه پورې ديوان يې
چې غواړم ټول دې وليکم
ټکي په ټکي
کلمه په کلمه
ان سر تر پايه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جزيره

که په خوله دې نه يادوم
خو د زړه په جزيره کې
مې تل را څرخېږې!

## دردېدل

ستا شتون دردولم
يعني تا دردولم
اوس چې رانه تللی يې
زه درپسې ډېره دردېږم
نه پوهېږم دا څه ډول احساس دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رگونه

ستا تول يادونه
رگو ته مې و بهېدل
زړه مې ستا تصوير
په سور رنگ انځور کړ

## مور

اخ!
مورې ماشومتوب ته مې
يو ځل بيا بوځه
وېښتان مې ولوبوه
للو للو راته ووايه
غواړم ستا غېږې ته پناه يوسم
او سکون ومومم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الفاظ

له زړه او ذهنه مې ټول
الفاظ والوتل چې تا ته
یې شعر کړم

## پانګوال

ته ډېر بې انصافه پانګوال یې
په اخیستلو پوهېږې
خو په ورکولو هېڅ نه پوهېږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## موسېدا

د زړه هېنداره مې په موسېدو شوه
ځکه چې خوشحالۍ ته مې غېږه
پرانیستې ده

## مغروره

زه مغروره نه یم
خو ستا یادونو کناره
او له هر چا لرې کړې یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیونتوب

لیونتوب مې را نارې وهي
غواړي روح مې ستا روح
لمس او حس کړي

## یاد ۱

ستا هر یاد
چې زما سیده ساده ګي
او صداقت را یادوي
زما د ژوند هغه یادونه دي
چې په یادولو یې نور هېڅ ته نه رایادېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تیاره

زه او ستا یادونه
د تیارو په مرسته
د زړه په هدیره کې
ستا غمونه لمانځو

# انتظار

اې!
تاته وایم راشه نو
نور مې سترګې له ډېرانتظاره
ستړي شوې دي
ان بانه مې خوږېږي
اوښکې مې رودونه جوړ کړل
داسې نه چې دا ټول کلی پکې
ډوب شي بیا به یې خون
ستا په غاړه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خولې

له سترګو مې خولې په څڅېدو شوې
دا ځکه چې ستا تود نظر
زما يخ وهلی نظر را تود کړی

## اشاره

غواړم وروسته له دې په اشارو خبرې وکړم
نور نوپه هېڅ ژبې،توري او کلمې
باور نه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## برېستن

ستا د راتلو په تمه به زه
ډېره ستړې شم
ته چې راځې ما به د خاورو
درنه برېستن اغوستې وي

## ماشوم

غوارم له سره وزېږم
هر څه هېر کړم
لکه نوی ماشوم ساه واخلم
درد او غم و نه پېژنم
له هر څه بې خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتڼ

کله کله مې احساسات
په وجود کې برگ اتڼ
جوړ کړي او تا رانه غواړي
په دې نه پوهیږي چې ته ډېر لرې تللې یې

## اوبول

د انتظار گلونه دې تر
هغه وخت په اوښکو اوبوم
تر څو چې ته راشې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خاطرې

ستا دردونه خوب رانه الوزوي
يادونه او خاطرې دې زړه مې
را چاپېر او نڅوي

## اړیکه

اې کاش زما او ستا اړيکه
لکه اوښکې او گرېوان
نږدې او صميمي وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درک

د درک سترګې مې هم
ستا په څېر ړندې شوې دي
ځکه نو ستا غلطۍ نه ليدی شم
او نه يې هم درک کوی شم

## ګيلې

ستا رنګين انځور مې
لا په سترګو کې غړېږي
اوښکې رانه ګيلمنې دي
ځکه د هغو ځای مې
تاته درکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خاموشي ۱

خاموشي مې په زړه شوکارې لګوي خو څه وکړم
چې د ویلو جرآت نه لرم
اما ته خو هم د لوستلو جرات
نه لرې
کنه زما په سترګو کې یو دیوان
خبرې دي چې ته یې نه
شې لوستی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سرې اوښکې

نن مې زړه ډېر ډک دی
غواړم چې په خپلو اوښکو
ټول کاينات ولمبوم
ان غواړم آسمان هم په خپلو اوښکو
ووينځم خو زړه مې راسره دا
په اوښکو مينځل نه منې هغه وايي
دا ټول کاينات زما په سرو وينو ومينځه
او اسمان ته هم زما د وينې سور رنګ
ډالۍ کړه

## مينه ۱

نن مې بې وزله مينه
لکه اوښکه
ګرېوانه ته را ولوېده
سړه آه يې
تر خولې ووته او خاموشه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زلزله

د هیلو او ارمانونو خونه مې
چې د زړه په وینو
جوړه کړې وه
د بې وفایي په زلزله کې له منځه لاړه
د زړه ټول دیوالونه یې ونړېدل
اوس د هیلو او ارمانونو هدیره ترې
جوړه شوې
یوازې د ناهیلۍ جنډه
پکې ولاړه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوند ۱

اې !
تاته وايم
زه داسې څه وکړم چې ستا اوښکې
را خپلې او غمونه دې لکه جامې له ځانه تاو کړم؟
هيله کوم ووايه زه څنګه ستا ژوند شم ؟
نه پوهېږم چې ته به ما خپل ژوند کړې کنه؟
خو زه دا وايم
ته زما د ژوند يوه برخه نه بکله
ته اوس زما ژوند يې
بې له تا بې روحه جسم يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## چوپتیا

اې!
ته داسې فکر و نه کړې چې
زما چوپتیا به زما کمزوري وي
د دې چوپتیا تر شا زما کلکه غښتلتیا
او قوي اراده پرته ده
چې ستا له درکه ډېره لرې ده.

## خاموشي ۲

خاموشي مې د زړه درد زیاتوي
د زړه درزا په غوږو اورم
د درېدو او ګرځېدو توان نه لرم
خو څه وکړم مجبوریت مې په خوله
د چوپتیا لاس ایښی دی
راز ویلو ته مې نه پرېږدي
وایي له ځان سره به ټول وسوزوې
ښه به دا وي چې ته یوازې وسوزې
او ځان ایره کړې خو خاموشي به تل ساتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژبه

اې!
ته پوهېږې چې
د مسکا ژبه مې د ماشومتوب
او د ښکلا ژبه وه
خو د غمونو او دردونو ژبه
چې ژړا ده تا را زده کړه

## مينه ۲

مينه هغه رنګين خوب
او ښايسته تصوير دی
چې د انسان زړه غواړي
هر وخت يې ووينې
خو افسوس چې
له لاسه ورکولو سره يې
ژوند بې رنګه او بې خونده شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپلوي

تا خو راته ویلي و چې
زما هر درد او غم خپلوې
زما اوښکې پاکوې او ګیلې مې خپلوې
دا نو څنګه خپلوي وه؟
چې نه دې زما اوښکې پاکې کړې
نه دې زما دردونه خپل کړل
او نه دې زما ګیلې خپلې وګڼلې
خو په بدل کې دا هر څه دې
په پنډونو راکړل
اما ولې؟
اخر دا ستا خپلوي وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماشومتوب

اې ماشومتوبه!
خیر یو ځل بیا  مې هم
هغه تېر وختونو او یادونو ته بوځه
له دې ژونده ستړې یم
غواړم بیا هغه پټ پټونی او
اکو بکو وکړم
غواړم بېرته همغسې ماشومه شم
له هر څه او هر شي لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګرېوان ۱

نن مې ګرېوان اوښکې
ته ګواښ وکړ او ویې ویل:
نور تا ته پناه نشم درکولی
نور ما ته مه را څخېږه
زه هم ګمزوری شوی یم
نورتا او ستا دردونه په دې شلېدلي
وجود کې نشم ځایولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طوفان

اې
ته داسې یو طوفان وې
چېله راتلو سره سم دې
زما د زړه له خونې
ټولې خوښۍ او رنګینۍ په مخه کړل
اوس مې ژوندون په بې وزلۍ سره
خپلې خوښۍ لټوي
خو له ظالم طوفان سره د مقابلې توان نه لري

## هیله

یوازینۍ د ژوند هیله او د
زړه سکون مې ته وې خو
افسوس چې اوس نه کومه
هیله او نه هم د زړه سکون لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تنهايي

اې!
پوهېږې چې تنهايي څه ده؟
هغه تل پاتې ډالۍ ده
چې تا را وبخښله

## باور ۱

نن ستا شیشې باور
له منځه لاړ نور به
هیڅکله د شګو
په پل مزل و نه کړم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هدیره

د زړه هدیره مې
د هیلو له جنازې ډکه
شوې ده
هرې خوا ته یې بې روحه
شناختې وینم

## کاغذ باد

ژوند مې کاغذ باد ته ورته دی
هرې خوا ته الوزي
خو منزل ته د رسېدو ځای یې
معلوم نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کړکۍ

اې کاش!
کاش چې زړونو ته
دروازې او یا کړکۍ
ور اېښودل شوي وی
تا به خپل انځور
د زړه په څلورو دیوالو
انځور شوی لیدلی وی
هلته به زما د مینې
کچه در معلومه شوې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آسمان

د معصوم زړګي آسمان مې
بیا ستا د بېلتون تورې
وریځې را چاپېره کړی دی
له ورښت نه یې ویرېږم
داسې نه چې په ورېدو یې
سیلاب راشي او هر څه
په مخه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یادونه ۱

پوهېږې!
ستا يادونو ته مې وويل :
نور ځان مه را يادوئ
نوره مې مه دردوئ
نور زغم نه لرم
خو دوی ستا په څېر سخت زړي نه دي
دا راسره نه مني
وايي موږ تا يوازې نه پرېږدو
موږ بې وفا نه يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پانسې

بېګاه مې ستا د دروغجنې
مينې په رسۍ خپلې ټولې
هيلې او خوبونه پانسي کړې
نه غواړم
نور د مينې او باور
په نوم څه و پېژنم

## اور

دا بې وزله زړه مې بخارۍ ته
ورته شو د لرګي او تېل په ځای
د معصوميت او مظلوميت
اور پکې بليږي
خو سرې لمبې او لوګي يې
څوک نهويني

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځان مرگی

د کرکې په رسۍ مې خپلې
ټولې معصومې هيلې
ستا له لاسه پانسۍ کړې
شهيد ارمانونه مې خواره واره پراته دي
د زړه هديره کې مې
نور خالي ځای نه دی پاتې
چې دوی ښخ کړم
ته يو ظالم ځانمرگی وې
چې په ډېرې بې رحمۍ دې
هر څهپوپناه کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملګرتیا

اې!
ژونده تا ته وایم
نورمې ستا له ملګرتیا بد راځي
نور مې له تا زړه تور شوی
ستړې شوې یم ستا ملګرتیا ما ډېره دردوي
نور د هېڅ کوم درد د زغمولو او ګاللو نه یم
نور د سختیو سره د مقاومت توان نه لرم
غواړم یوې هوسا غېږې ته پناه یوسم
اوس نو غواړم ستا له ملګرتیا لاس واخلم
او داسې ملګري ته پناه یوسم چې ماته
ارامي او سکون را وبخښي
له هغه ملګري پناه غواړم چې مرګ  نومیږي
او د تل لپاره هوساینه را بخښي
اخر هغه خو د تا په څېر ظالم نه دی
چې تل دردونه او غمونه راکوي
یو دم له هر څه خلاصون را ډالۍ کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مړې هیلې

نن مې زيړې رژېدلي پاڼې
تر پښو لاندې وليدې
د درد او اسويلو اواز يې تر غوږو را ورسېد
په زړه کې مې څړيکه شوه
سم د درد احساس مې وکړ
ناڅاپه مې پام شو چې مړې مړې هيلې مې
راته ژاړي په ژړغوني غږ وايي:
ستا هغه ورځ ياده شوه چې موږ همداسې
د يو ظالم انسان تر پښو لاندې له منځه تلو
او د مرستې مو څوک نه و
او نه مو د درد احساس چا کاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زخم

په یاد دې دي کوم زخم دې چې راکړی و؟
هغه اوس ناسور شوی او د هر ځل
درد احساسېدو سره سم ستا دورغجنه
مینه او مکاره څېره را یادوي

## زندان

که څه هم تا ټوله زنداني کړې یم
خوله مې د بنده کړې ده
لاسونه مې دې تړلي
خو زما خیال
فکر، او قلم نه شې
زنداني کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوښکې ۲

نن مې لکه اوښکه له
سترګو ولوېدې
کله به دې هم یاد نه کړم

## ګل

هغه ګل دې په یاد دی؟
کوم چې په تور ماښام کې دې راکړی و
او تیارو ته دې رڼا ور وبخښلې وه
د یو ګل په څېره کې دې ټوله نړۍ
راته ډالۍ کړې وه
اوس هغه ګل وچ شوی دی
نه بوی لري او نه ښایست
اما ستا خواږه یادونه،هغه مینه او هیلې لا همداسې
زما په زړه کې غوړېدلي او تازه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تسبیح

د اعتماد هغه تسبیح  دې چې د دوکو په
تار پېیلي وه وشلېدې
هغه دروغین نومونه دي چې هرې
دانې ته انتخاب کړي و وشیندل شول
ټولې دانې مې راټولې کړې
خو یوه هغه دانه چې باور او اعتماد
نوم لري پیدا نشوه
ځکه چې په دې نوم تا
یوه دانه هم نه وه نومولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تصویر ۱

ستا تصویر مې په سترګو
کې انځور کړ د زړه په وینو مې ورنګاوه
چې لاپسې ښایسته شي
ډېر ښه انځور شوی دی
خو د سترګو باران مې دا ښایست
نه شو لیدلی
وورېدې او ستا ښکلې انځور یې
رانه واخیست

## زړه ۱

د زړګي درد مې بینا سترګې
او رسا غوږ غواړي چېهم یې  ووینې
او هم یې درد واوري چې ته یې نه لرې
خو کاش ما هم ستا په پېژنده کې
غوږ رسا او سترګې بینا کړې وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سلامونه

د شمال په لاس مې
سلامونه در واستول
زړه مې په درزا او ټوپونو شو
اوښکې مې ور سره مل
او سلګۍ مې ورسره تړلې وې
روح مې هم غوښتل
ستا په لور والوزي خو په دې معصوم
او بې وزله جسم مې دا
غمونه نه پېرزو کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عمر

د خوشحالیو عمر مې د ګل پرمخ
هغه شبنم ته ورته دی
چې په څو شیبو کې فنا کیږي
خو د غمونو عمر مې د سیند
هغې لویې تیږې ته ورته دی
چې سیلاب یې هم نشي فنا کولی

## تصویر۲

د دریاب پر موجونو
د کبانو پر نڅا او ټوپونو
ستا د بې قراره زړه او سترګو
تصویر انځورم
ذهن ته یې سپارم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ساه ۲

اوس مې ساه
او روح دواړه
له تا سره ایسار دي
زه به تر کومه داسې
ګرځم لکه بې روحه جسم

## هیلې

د زړګي ټولې
هیلې او ارمانونه مې
سیند ته و ر وسپارل
خوښه یې چې له ځان سره یې وړي
او که د زړه په تل کې یې
ډبوي او فنا کوي یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قسمت

که آسمان او ځمکه
سره یو ځای شي
نو په همغه ورځ به مو
قسمتونه یو
او بېلتون ته به مو ماتې
ورکړې وي

## اوښکې ۱

نن مې اوښکې تاپسې
ډېرې خفه شوي دي
هره شېبه دې یادوي
د باران په څېر تاپسې وریږي
کاشکې ته هم د طوفان په
څېر ناڅاپي راغلی وی
او د ژوند تورې وریځې به دې
په مخه کړې وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نقاب

نن مې ستا د نقاب داري څېرې شاته
یوه وېرونکې او بد مخې څېره ولیده
ډېره ووېریدم!
ساه مې په سینه کې په ډوبېدو شوه
اوښکې مې په سترګو کې ډنډ شوې
زړه مې د شیشې په څېر ماتېده
له دردونکي اواز نه یې
په ځمکه مېخ شوې وم
روح مې په سلګیو و
هېڅ مې نشوی کولی
توان مې ختم ویوازې مې تر شونډو لاندې دومره وویل:
کاش چې ړنده وی
او ستا دا دروغجنه څېره
او مینه مې
نه وی لیدلی او نه مې هم حس کړې وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احساس

نه پوهيږم
چې احساس مې
تا غلا کړی
که شعر ليکل رانه
هېر شوي دي

## شعر

د مات زړه اواز
د مرورو اوښکو سيلاب
د شونډو غمجنه او ترخه موسکا
د رنځور جسم فرياد مې
د ناهيلۍ په تار سره وپېيل
او تا ته مې په ماتو او دردمنو الفاظو
شعر وليکه
خوښه ستا چې په لوستو يې
ذهن ته  سپارې
که زړه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خزان

ته!
د خزان زرین طوفان وې
زما د ژوند ښایسته بهارونه دې
ورژول

## نغمه

اې!
ته دې شپېلۍ هغه خوږه
نغمه یې چې په اورېدو
یې ساه اخلم،او روح
مې تازه کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احساس ۱

اې کاش چې ستا
په څېر زما احساس هم
مړ شوی وی ستا په دوکو
به دومره نا ماتېدم او ستا
نشتون  به نه کړولم
که ستا په څېر بې احساسه وی
نو ستا غم او درد ته مې
اوښه نه ورکوله ستا اوښکې مې نه خپلولې
او نه به مې داسې زړه ماتېده

## ژوند۲

ته زما د ژوند لامل او زړه تسکين يې
او هغه ستا د  ژوند لامل او تسکين
آه !
زما ژوند له منځه لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ازادي

د ژوند لوی نعمت ازادي ده
خو څه وکړم چې زه یې نه لرم
زما روح ،زړه او ذهن ټول
تا سره اسیر او په بند کې دي

# خندا ١

خندا مې د کډوالو په څېر
له شونډو کډه وکړه
خو نه پوهېږم چې له دې سفره به
بېرته راځي او که د تل لپاره
یې کډه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انار

ای!
تا ته هسې زه
په ظاهر لکه سره منه
ښکارم
په اصل کې زما زړه
د انارو د دانې په شان
له غمونو او دردونو ډک دی
نو د منې په ځای مې انار بوله

## یاد

په مات زړه مې مات مات توري راټول
په مات قلم مې ستا نوم پرې ولیکه
خو نا څاپه د مات زړه
له وینو ولیکل شول
نور ستا بې وفا یاد په دې مات زړه
کې نشم ساتلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الوتل

غوښتل مې والوزم
ان تر آسمانه ستوري
په لاسونو کې ونیسم
د سپوږمۍ ښایست له
نږدې ووینم او
اسمان ښکل کړم
خو افسوس
چې تورو وریځو را چاپېره
کړم

## مینه ۱

د غزل په څو بیتونو کې مې
ستا مینه انځوروله
ټول توري رانه مات شول
اوس یې ماتې ټوټې ټولوم
اوذهن ته یې سپارم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## روح

ته لاړې!
خو زما زړه او ذهن دواړه دې
له ځان سره یووړل
اوس مې روح سرګردان
او تن مې د کالبوت په شان دی

## پلار

ډېر مې یادېږې
د اوښکو په موجونو کې
تل ستا لارې څارم
ستا مهربانه لاسونه
حس کوم پلار جانه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیوان ۲

اې!
ته فکر مه کوه چې
زه ولې داسې غلې یم
زما د خاموشۍ تر شا
یو دیوان رازونه دي
خو افسوس چې ته یې
نه شې لوستلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مرګ ۲

تېره شپه مې په خوب ولیدې
چې ته زما جونګړې ته راځې
ډېر مې په وړین تندي
ستا هرکلی وکړ
ډېره درته خوشحاله وم
خو اوس غواړم چې ته په ویښه
زما خواته راشې او ما ته په خپله
غېږه کې پناه راکړې
یوازې ته یې چې زما دردونه او غمونه
لرې کولی شې
نو هیله کوم مرګیه!
یو ځل په ویښه زما خوا ته راشه
فقط یو ځل هیله کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سکون

ته زما د مینې او د ښایستونو ټوله نړۍ یې
ته زما د زړه سکون او ارام یې
او تل به دې تشه احساسوم
ان تر قیامته به مې د زړه پر محور ولاړ یې
پلار جانه!

## باران ۱

زما زړه تاته دومره در نږدې
و چې ستا هره اوښکه مې
په باران کې  لیدلی شوه
خو افسوس چې تا هیڅ وخت
زما اوښکې بې بارانه
هم و نه لیدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کتاب

زړه مې هغه تړلی
کتاب دی
چې په بندو شونډو
ډېرې خبرې کوي
او خپل درد انځوروي!

## نظر

نه پوهېږم چې زما
نظر کمزوی شوی
که ته رانه ورك شوی يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## للټین

زه ستا هر یاد
په خپل داغلي زړه کې
د للټین په څېر
روښان ساتم خو د تېلو په ځای
د زړه وینې پکې سوزوم

## سترګې ۱

زه او ته
لکه دوې سترګې
ډېر سره نږدې او څنګ په څنګ یوو
خو افسوس چې
هېڅکله مو سره و نه لیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لمانځینه

ای!
تا ته وایم
لږ خو دې دا غم ته ووایه
چې ما څو شپې یوازې پرېږدي
ان په لمانځه کې هم راسره غبرګ
په لمانځینه ولاړ وي

## زولنې

د رسمونو په زولنو داسې تړل شوې یم
چې نه ځان خلاصوی شم او نه‌هم
ژوند کوی شم
ان تر دې چې د ساه ایستلو حق هم نه لرم
ځکه چې ښځه یم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګلونه

د زړګي ګلونه مې
ټول مړاوي شوي
د رژېدو اواز يې
د درد په شکل
په سينه کې
احساسوم!

## نه پوهېږم

نه پوهېږم
چې ځان رانه ورك دی
او
که تا
پيدا کوی نشم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کاروان

ژوند د غمونو،دردونو او بې وفايي
داسې کاروان دی
پرته له دې چې
منزل ته دې ورسوي
په نيمه لار کې دې پرېږدي.

## اختر

اې اختره!
ستا راتګ ته ډېره خوشحاله وم
چې هغه به لکه باران زما
د زړه په وچه دښته وورېږي
خو افسوس چې هغه ډېر پخوا
د بل چا زړه دښتې ته باران شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هینداره

ته مې خپله هینداره ګڼلې
ستا د مخ په رڼا کې مې خپل ځان لید
خو اوس پوه شوم
چې ته زما هینداره نه یې
ته هغه بې ښایسته هینداره یې چې
د بل چا د مخ په رڼا کې خپل
ځان وینې

## تیارې

تا مې ژوند ته د بې اعتمادۍ
دومره تیارې ډالۍ کړې
که اوس راته سپوږمۍ هم شې
او ژوند راته روښانه کړې
نور به هېڅکله په تا باور و نه کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زغم

کله کله د ژوند زغم
دومره ستونزمن شي
چې مرگ یې هم د حل لار
نه شي کېدی

## زړه ۲

ای!
زما رنځور زړگیه!
ته گوره چې څه دې وکړل
مین ته شوې
د اوښکو رودونه
زما پر مخ جوړ شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درياب

ستا د سترګو په درياب کې
داسې ډوبه شوم چې
هيڅ نه پوهېږم
د اوښکو موجونه
ماچېرې وړي ؟

## مينه۲

ستا مينه لکه
فضايي سفينه چې
يوازې په خيال کې مې ښه
محسوسيږي او حقيقت نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دعا

اې پاکه ربه!
اې د ټولو زړونو او رازونو خبرداره
نور دې هيڅ غم او درد د زغملونه يم
نور مې توان ختم شوی
صرف ستا ملتيا غواړم
اې پاکه ربه!هيله کوم مرسته راسره وکړه
ستا په مرستې
غواړم د ځمکې غيږې ته پناه
يوسم او له هر غمه
خلاصون ومومم!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لمر

لمر په ډوبېدو  و او خپل زرين شال يې
د سيند اوبه ته ډالۍ کړ
د سيند زرينې اوبه په
نڅېدو شوې،ونې په خندا خندا
شورماشور جوړ کړ
لږ ځنډ وروسته ستورو هم سترګکونه کول
خو ما په دې هرڅه کې ته ليدلې
او يوازې مې ته احساسولې
ان تر دې چې يوازې او يوازې
مې ته تنفس کولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رباب

ستا مینه  د ربابهغه دردونکي نغمې ته
ورته ده چې په اورېدو یې
زړه دردیږي او ځان په غم کې
ډوب احساسوي

## غم

ستا غمونه ستا په څېر
بې وفا نه دي تل مې
د سیوري په شان
ملتیا کوي
خو کله نا کله سیوری هم
په تیاره کې د انسان ملتیا پرېږدي
اما ستا غمونه  دا کار نه کوي
په تیاره کې مې هم
یوازې نه پرېږدي
تل راسره مله وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اختر ۲

ستا راتلو ته مې شېبې شمارلې
خو يو ځل بيا دې هم
انتظار را سره مل کړ
اوس به تر بل اختره انتظار کوم
چې ته به راځې

## گل

د هر گل په ښایست کې
زه يوازې او يوازې تا لټوم
خو نه پوهېږم چې کوم گل به
تاته ورته وي
ځکه چې دا گلونه اغزي نه لري
چې له امله يې ټپي شم
اما ته داسې د اغزيو ډک گل يې
چې تل مې ټپي کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هینداره ۲

د معصوم زړه هینداره مې
داسې چا ماته کړه
چې ما خپل ټول ژوند
د هغه په نوم کړی و

## ژړا

زړه مې غواړي چې
په چیغو چیغو وژاړم
خپله ناهیلي وغړوم
خپل غمونه ورته اوښکې کړم
تر څو د څمکې کلك زړه نرم شي
او غېږه کې پناه راکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اواز

د دنیا له ټولو ناسمو
رسمونو او دودونو څخه
غوړونه مې څه نه اوري
یوازې او یوازې
د خپل زړه اواز اورم
ځکه چې ناسم نه مني

## بانه

له خپلو بڼو شکر گذاره یم
کله چې ستا په یاد کې اوښکې تویوم
بانه یې غېږه کې نیسي
تویدلو ته یې نه پرېږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مغرور زړه

له هغه مغرور
او ډېرين زړه څخه
ناره پورته شوه
چې نور زغم نه لرم
ډېره مې يادېږې!

## اختر ۳

د داغلي زړه په وينو مې
لاسونه په حنا کړل
داسې نه چې اختر رانه خفه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لحد

پلار جانه!
سبا دې تور لحد ته
له زاريو سره درځم
د لحد توره ډبره دې په اوښکو مينځم
تر هغو چې د تيږې ډبرين زړه نرم شي
او تا بېرته راکړي

## اوښکه۲

ته زما په سترګو کې
د ښايستونو او يادونو
هغه اوښکه يې
چې نه غواړم
له سترګو مې ولوېږې
غواړم تل دې په سترګو کې وساتم
او په ښو کې دې پټ کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اعتماد

اعتماد هغه لمر وړانگه وه
چې په ډېره چټکۍ
د زره تیارې خونې ته د ننه شو
او هر څه یې روښانه کړل
زړه یې داسې راونغښت
لکه د خرما زړی چې
د خرما په منځ کې اوسي
خو لیږ شیبه وروسته
له منځه لاړ
او زړه په گوگل کې خالي پاتې شو
لکه څنگه چې په خرما روژه ماتی وشي
او زړی یې لرې گذار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يادونه ۲

ستا د يادونو اوښکې مې
په نمجنو سترګو کې
ډېرې پټې وساتلې
داسې نه چې په بهېدو يې
ستا يادونه هم ستا په څېر
وځاځي
او ما يوازې پرېږدي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# صبر

د صبر سلايي مې د رانجو پرځای
په سترګو پورې کړه تر څو
نور په سترګو کې ځای در نه کړي
ستا لپاره نمجنې نشي
اوس مې سترګې ستا لپاره د غړېدو نه صبر شوې
اما زړه يې را سره نه مني
خو نه پوهېږم دا نا پوه زړګی مې د صبر په
نوم ولې هيڅ ډول کليمه نه پېژني؟
راته وايې زه نا لوستی يم
نه د صبر کلمه لوستی شم او نه
يې پېژنم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انتظار

انتظار دې د زړګي
ویالې راوچې کړې
اوس مې د زړه سوې صحرا
له وچکالۍ سره مخ ده
نه کر پکې کوی شم
او نه یې شاړه پرېښودی شم

## یاد

ته مې په یاد کې نه
بلکه ته زما
یاد ګرځېدلی یې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قاتل

احساس مې مړ شوی
حواس مې خواره واره دي
زړه مې مات او خيال مې کوچېدلی
روح مې هم پانسی شوی
بې روح جسم مې داغلی،دردېدلی
په ژړا او په کوکار په وژونکي
پسی لالهانده ګرځي خو افسوس
چې نه پوهيږي د دې هر څه
قاتل ته ظالم يې
يوازې ته !!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امېل

پوهېږې!
هغه احساس مې
اوس رانه مرور دی
کوم چې تا ته به مې مات ماتوري
سره پيپل او د رنگينالفاظو
امیل به مې
د شعر په شکل جوړاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حنا

اې پوهېږې!
ستا غمونه دومره
را چاپېره کړې يم
چې ان اختر مې هېر دی
خو،نن مې رنځور او معصوم زړه
وغوښتل ستا نوم په حنا
لاسو کې وليکم
خو افسوس چې حنا هم گيلمنه وه
نه يې غوښتل ستا بې وفا نوم
بيا پر لاسونو وليکم
درد مې تازه او سترگې مې
نمجنې کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زړه ۳

اې لړزان زړګیه!
ته ولې داسې لړزېږې
او له قربانۍ وېره لرې؟
ته خو ځو ځو ځلې د هغه بې وفالپاره
قرباني شوی یې
اوس د قربانۍ لپاره نور څه نه لرو
صرف دا یو کالبوت شکل جسم
شته او بس

## شك

اوس چې دې
د زړه هینداره
په شکونو وپوښله
نو ماته په کوم نظر
ګورې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بې وفا يي

اوس چې دې بې وفايي جامې
په تن کړې او د دوکې په ګاڼه دې
ځان سمبال کړی
نو ووايه چې ماته
په کوم نظر ګورئ؟

## دهيلو پسرلی

د هيلو پسرلی مې په
غوړېدو شو
ستاد راتلو زيری يې
اوريدلی پسرليه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماتې اوښکې

اوښکې مې نن له ډېر
درده ماتې شوې
په سلګو سلګو یې ګرېوان ته
پناه یووړه
ګرېوان یې سره پیوند کړ
خو مات شوی زړه مې
چې په ژړا او ناهیلي
یو ځل بیا ستا مینې ته پناه دروړه
نه تا او نه هم ستا مینې
هغه مظلوم پیوند کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شهادت

ستا د بې وفايي شناخته
د زړه پر مقبره دروم
د هيلو مزار مې
د زړه په وينو رنګوم
چې ټول مالت يې ووينې
او ماته دشهادت مبارکي راکړي

## د زړه دښته

تا مې د زړګي دښته
د ملتان په څېر کړه
اوس نو د هيلو او ارمانونو
د ګل کېدو تمه نه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پاڼه

د خزان وهلې ونې
په هره زرينه پاڼه کې
خپلې
رژېدلې هيلې وينم

## بخيلي

ستا له سيوري کرکه لرم
کله کله مې بخيلي هم ورسرهکېږي
ځکه چې هغه تل درسره وي
او تر ما هم در نږدې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زړگی

يوازې زړگی مې خبر دی
چې ولې په تيارو کې
اوښکې تويم!

## اوښکې

په ډېرو اوښکو مې
د ويالې اوبهمالگينې او رڼې کړې
خو يو ستا ډبرين زړه دی چې
په هېڅ ډول اوښکو
نه نرمېږي او نه صفا
کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کرکه

د کرکې په ستن
د صبر په تار مې
خپلې شونډې وگنډلې
نه مې غوښتل
ستا د بې وفايي راز
ښکاره شي!

## پناه

زه او ته
لکه دوې بې ځالې
مرغۍ
يو بل ته مو پناه يووړه
خو روزگار
د دې زمانې د خلکو په څېر
ظالم او سخت زړی شو
موږ يې يو ځای ځالې جوړېدا ته
نه پرېښودو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اور

د مينې او بېلتون
د اور لمبې مې تجربه کړې
اوس نو د جهنم له اوره
نه وېرېږم
تر دې به مې
زياته نه سوځي

## خندا ۲

ژوند مې د داسې چا
په اوښکو بايلود چې اوس مې
په ژړا پورې خندا کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښایست

پوهیږې چې د نړۍ ټول
ښایستونه ولې راته
بدرنګ ښکاري؟
ځکه چې ته راسره نه یې

## شپیلۍ

د زړه ماته شپیلۍ مې
د نغمو په ځای په ژړا ده
او د زمانې ناسازو ته
مړې مړې اوښکې تویوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مات زړه

د زړه ماتولو کلمه مې اورېدلې وه
خو تجربه کړې مې نه وه
اما پرون مې دا تجربهوکړه
دخپل مات زړه اواز او اسویلې
تر اوسه پورې هم زما په غوږ
کې دي

## زېری

ستا د راتلو زېری مې په زړه داسې
ولګېد لکه پسرلنی باران
چېټول ځایونه زرغونوي
زما تمه پیدا شوه چې زما د زړه
تیاره خونه به هم روښانه اوزرغونه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شیشه

آه دا د کومې ښيښېغږ دی چې ماتيږي؟
اخ دا شيشه نه ده ،دا زما د زړه د ماتېدو
اواز دی چې د يوې بې ارزښته شيشې
په څېر ماتيږي خو وينې يې زما له
سترګو څاڅي اوګرېوانه ته پناه وړي

# لمبه

ته د خزان هغه زرين ډوله لمبه وې
چی زما ژوند ته د ننه شوې
او زما د ژوند ټول ښايستونه دې
وسوزول ،ايره دې کړل
او په باد دې وسپارل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مېلمه

اې!
ته پوهېږې چې دا غم د ولې
تل راسره وي او د زړه په
خونه کې مې ژوند کوي؟
دا ځکه چې زړه مې پښتون دی
مېلمه نه خفه کوي

## خپلواکي

د خپلواکي له کلمې خوند اخلم
او ځان ازاد احساسوم خو ناڅاپه
مې پام شي چې زما زړه او روح
خپلواکه نه دي ستا په قید کې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کیسې

ستا د بې وفايي کیسې مې نن شپې
سپوږمۍ ته وکړې ستا د ظلمونو
کیسې يې نه شوې اورېدلی
له ډېره درده تاوېده او تور داغ
يې په زړه جوړ شو!!!

## داغونه

ستا له داغونو نه زما
د زړه هدیره ډکه شوې
دا نوي داغونه چې راکوې
نه پوهېږم چېرته يې ښخ کړم
د زړه په هدیره کې مې
نور هېڅ ځای نشته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مرور

ما ډېر مرور پخلا کړل
خو
يو ته هېڅ پخلا نشوې!
**چې دا ولې؟**

## تلوسه

ستا ديدن ته مې تلوسه ده
ځکه چې يوازينى د ژوند لامل
او د زړه سکون مې ته يې
يوازې او يوازې ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوازېتوب

که ووایم چې یوازې یم
دا به حقیقت نه ویځکه چې
ستا غم تل راسره دی !

## نمجنې سترګې

نمجنې سترګې مې په ډېره مینه
او وفا داري ستا لارېڅاري
چې ته به کله راځې
خو لا خبرې نه دي چې ته د بل چا
د لارېڅارولو له امله
ړوند شوی یې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سفر

ته چې په سفر تلې زما خوله خندا هېره کړه
زړه مې درزا هېره کړه ان تر دېچې
سترگې مې له رپا منکرې شوې
یوازې یې ته کتلې اوبس!

## شهید

نن مې سترگې نه بلکه زړه ژاړي
ځکه چې هرې خوا ته هدیرې وینم
هغه هم د تورو شپو شهیدان!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زړه ۴

ته چېځې نو دا بې وزله زړه مې
هم درسره یوسه ځکه چې نه غواړي
بې له تا بل چا ته ودرزيږي!

## سترګې ۲

سترګو تورولو ته مې زړه ښه کړ
لا مې تورې نه وې چې زړه مې
ستا د نشتون پېغور
سترګو ته ورکړ
د رانجو په ځای
اوښکو د سترګو ملتیا پیل کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وېره

د شپې له تيارو وېرېږم خو وېرهمې
کمه ده ځکه د تيارو شاته
د سبا زيری شته خو ستا د نقابي
او تياره خېرې شاته د هيڅ سبا
څرک نشته نو ځکه مې هم وېره
ډېره ده

## زړه ۵

زړه مې هغه بې تورو کتاب ته ورته دی
چې هيڅوك يې لوستلو ته
زړه نه ښه كوي حتا ته هم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپوږمۍ

په اسمان کې د نیمکۍ سپوږمۍ له ختلو
سره ستا دوه مخکي را یاده شوه
هغه کله لویه او وړه شي
خو ته هیڅ وخت لوی نه شوې
ته له سپوږمۍ سره مقلوبه تشبیه یې

## هیلې

د هیلو جنازه مې
قسمت ته وسپارله
چې په خپله اوږه یې واخلي
او د زړه په سوي صحرا کې یې
ښخه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جنازه

په غړولي سترګې مې خپلې
هيلې او ارمانونه ليدل چې
په ډېرې بې رحمۍ قتليږي
دردونکي جنازې مې ليدلې
چې څنګه په بې کسۍ او تنهايۍ
د زړه په هديره کې مې ښخېدل

## تندر

اې!
ته لکه آسماني تندر زما
د زړه په کور را پرېوتې
په يوه شېبه کې دې هر
څه پوپناه کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احساس ۲

نه پوهېږم چې ته ولې داسې
بې احساسه يې؟
ځان مې در قربان کړ، ټول وجود مې
نن لمبه کړ، ان ټول اسمان مې
له لوګيو ډک شو
توره وريځه شوم ستا لپاره
د باران په څېره ووريدم
ستا د زړه ويجاړه دښته مې
زرغونه کړه خو افسوس چې
ته زما په قدر پوه نشوې

## تيارې

ته پوهېږې چې د تيارې رنګ
ولې تور دی؟
زه يې درته وايم
تيارې زما د ژوندانه رنګ
خپل کړی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## باور ۲

اې!
ستا او ستا د دوکې ګناه نه ده
ګناه زما او زما د دې ساده زړه ده
چې په تا مو له ځانه ډېر
باور کړی و!

## ژوند ۳

ژوند  د هغه دردونکی ناول
په څېر دی
 چې په هر باب کې یې
بېلابېل غمونه او دردونه
انځور شوي دي
هېڅوک نه غواړي ویې لولي
ان د نړۍ سخت زړي خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حیا

ستا په سترګو کې مې
هغه حیا ناکه مینه
و نه لیده
چې یوازې زما لپاره وه
او نه مې ستا په زړه کې
هغه درزا واورېده چې زما لپاره به وه
اوس هر څه بدل شوي او ستا
رنګ هم بدل ښکاري

## بالښت

ویل مې:
تل به په بڼو
لار ورته جارو کوم
د زلفو بالښت به ورته ږدم
هغه لاړ
د ګل او اغزي په توپیر و نه پوهېده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دنیا

دې ظالمې دنیا داسې
د غمونو او دردونو
پنډ را پشا کړی دی
چې نه یې وړی شم او نه یې
پرېښودی شم

## هیلې

د زړه ټولې هیلې مې
په خپلولاسونو تربتې کړې
د ژړا او سلګو اوازونه یې
لا تر اوسه په غوږنو کې
انګازې کوي
خو یوه هیله مې لا تر اوسه
لالهانده ګرځي
تا ته د رسېدو هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سترگې ۳

نن زما سترگې يوازې تا گوري
غواړي ستا د سترگو په موجونو
کې ځان ډوب کړي
ځکه چې نه پوهيږي ته به سبا
چېرې وې ؟
زما سترگې،اوښکې
او ستا تصوير به سره مله وي

## قلم

اې قلمه زه يې وايم ته يې ليکه
داسې توري وليکه چې هغه هم زما
د درد احساس وکړي او ويده وجدان يې
ويښ شي خو که وجدان يې مړ وي
هيڅکله به ويښ نه شي!
ان که د دردونو او پندونو ناول هم ورته وليکې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژوند ۴

ژوند مې خزان موسم ته ورته شو
د بېلتون شمال يې يوې خوا او بلې ته
داسې الوزوي لکه رژېدلې
زېړې پاڼې

## وعده

د يو ځای ساه ايستلو مو
سره وعده کړې وه
اوس چې نه يې
د يوازې ساه ايستلو توان
نه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شمع

شمعې په ژړا ژړا پتنګ ته وویل:
ته زما د دې اوښکو پروا نه کوې
ګوره چې ستا په مینه کې ویلېږم
سوزېږم او ختمېږم
پتنګ هم په نیم ژوند جسم او
ژړغوني غږ وویل:
ته دا زما مینه نه وینې چې ستا تر
سوزېدو او ختمېدو  مخکې  ستا
په قدمو کې ساه ورکوم!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظم

زړه مې نن را نه وغوښتل چې
تاته نظمونه ولیکم
خو افسوس چې تورو هم ستا
په څېر زما ملتیا پرېښوده
نه یې غوښتل ستا بې وفایي انځور
کړي
خو د مات زړه په وینو به دا هر څه
په نثر کې بیانوم

## کاغذ

ژوند د سپین کاغذ پر مخ
د څو تورو لیکلو په څېر دی
خو افسوس چې دا توري څوک
لوستی شي او څوک نا لوستی پرې تېرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شعر

اې!
ستا او ستا د دردونو
ډېره شکر گذاره يم چې
د شعر ليکلو احساس يې
را بخښلی دی

## خاموشي ۳

کله کله مې خاموشي په سينه کې
په غورځنگو شي
وېرېږم داسې نه چې
د دردونو اور مې
رنځور زړه وسوځوي او ايره يې کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپیلۍ ۲

ژوند یې هغه شپیلۍ ته ورته دی
چې په زړه کې یې  په لسگونه
دردونکې نغمې او گیلې دي
زړه یې هم  سورۍ سورۍ لکه
شپیلۍ چې له هر سوري ځخه
یې بېل بېل د غمونو نغمې غبرولې کیږي
چې ان تن او  هډوکي یې
له ډېر تراژیدي سوځي

## شک

د زلفو په تارونو مې په ډېره
مینه او اخلاص د اعتماد ملغلرې
 وپېیلې خو هغه ظالم
شکي شو، ټول یې وشلول

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تصویر

په زړه ناست هغه تصویر مې یې
چې په تنهایي کې یوازې تا ته
پناه دروړم او پټ رازونه
درته وایم

## شناخته

تل د لیونۍ په څېر له ځان سره
بونګېږم او ستا خو ته روانه وم
شناخته دې ډېره خوزوم د زړه ټول
دردونه درته بیانوم
زما د هرې خوښۍ او غم ملګریه!
زما د ناهیلۍ اورېدونکیه
زما د دردونو او رنځونو مرحمه
زه خو تا نشم هېروی هر وخت
مې په یاد یې خو یو ته یې چې
هېره کړې دې یم او ځان ته مې
نه در غواړې پلار جانه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احسان

ستا او ستا د بې وفايي ډېره
احسان منه يم چې کله مې هم
سترګې وچېدلو ته نه پرېږدي!

## وفا

زړه مې ستا په وفا داسې
تړل شوی لکه د ماشوم
زړه په مور پورې
خو افسوس زه نه پوهېدم
چې ستا وفا او مينه د شګې
يو بند دی چې زر
له منځه ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هېرول

درد سخت دی خو تېرېدونکې دی
غم تر هغې هم سخت دې خو
هېرودونکی دی
اما درد او غم ورکونکی هېڅکله
هېرېدونکی نه وي

## رښتینی انسان

زه او زما زړه
ته او ستا ضمیر
په دې ډېر ښه پوهېږو
چې کوم یو مورښتینی او
صادق انسان دی
زه که ته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## گرېوان ۲

اې!
ته پوهېږې چې تېره شپه
څه وشول؟
زما اوښکو ستا د دردونو
او غمونو کيسې له گرېوانه سره کولې

## سپوږمۍ ۲

هغه نن بيا سپوږمۍ ته مخاطبه وه
په سوي غږ يې وويل:
اې ښکلې سپوږمۍ!
که څه هم ته په ښايست کې هغه ته ورته يې
خو ستا ښېگڼه
پرې زياته ده ته ټولې نړۍ ته
رڼا او ښکلا ور بخښې
خو هغه گوره چې يوازې
زما او خپل ژوند نه شي رڼولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یاد ۲

ستا هر یاد زما د ژوند هغه
یادونه دي چې په یادولو یې
هر څه له یاده باسم او یوازې
تا او ستا یادونه یادوم!

## تجربه

اورېدلي مې و چې زړه ماتول
او درد ورکول لویه تجربه غواړي
خو ته د نړۍ تر
ټولو تجربه کاره انسان یې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مړ احساس

ستا په احساس کې خپل مړ
احساس لټوم،خو پيدا کولی يې نشم
داسې نه چې زما له احساس سره
ستا احساس هم مړ شوی وي

## ليک

د داغلي زړه په وينو
نن ليک ليکم
نن مې ټول احساس
بيانوم نن هر څه هرڅه
په ښکاره وايم
چې ته مې ډېر يادېږې
بې له تا ژوند نشم کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګواه

د دردونو او آهونو ګواه مې
دا ستوري دي چې نن
مې ستا په بېلتون کې
تېرول
يوازې مې دوی شاهدان دي

## چاودلی زړه

د لاله د زړګي داغ،
د غنم چاودلي زړنو ته
چې نظر کړم
د خپل چاودلې او داغلې زړه
انځور مې مخې ته ودرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوښکې ۲

ته پوهېږې! چې نن سبا
کوم شی ډېر بې ارزښته او
ارزانه دی؟
زه یې درته وایم
اوښکې  دي چې ډېر ارزانه دي
 هغه هم زما اوښکې

## بندیوانه

سپوږمۍ په ورېځو کې
داسې بندیوانه ده
لکه په ناوړه دودونو کې
د یوې مظلومې پېغلې
ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بېړۍ

زما د ژوند ټولې هیلې
لکه ماتې بېړۍ زما د اښکو
په دریاب کې ډوبې شوې!

## تیارې

چې پوهېدې له تیارې
او یوازېتوب څخه وېرېږم
نو ولې دې یوازې پرېښودم
او تیارې ته دې وسپارلم!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نښې

چې د غمونو
اميل دې را په غاړه کړ
چې دې له تورتموسره ملګرې کړم
چې دې اوښکې را ډالۍ کړل
چې دې د کرکې اور زما په زړه کې بل کړ
نو دا د بې وفايۍ نښې دې له ځان سره
يو ځای سوزوم

## ديوال

هغه يو ځل بيا هم په تيارو کې زاړه ديواله ته
تکيه کړې او اوښکې تويوي
بيا هم له دې هر څه خوند اخلي
همدا يې د زړه سکون دی
ځکه د دې ژوند همدې تياروته ورته دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وزرونه

وزرونه يې را وتړل ويل يې
نه غواړم رانه لرې لاړه شې
او يوازې مې پرېږدې
اوس چې الوتی نشم
خپله والوت،رانه لاړ
زه يې يوازې پرېښودم
د غمونو نړۍ ته!

## غشی

اې!
دا سترګو او بڼو ته دې ووايه
چې نور مې په دې غشو او بمونو نه ولي ؟
نور مې په دې زړه کې
څه نه دي پاتې ټول ارمانونه مې
شهيدان شوي خالې ګوګل
پاتې دی او بس

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مړغونی

اې!
ته داسې یو څه یې لکه تریخ مړغونی
چې په ظاهر ډېر ښایسته
او په باطن کې ډېر تریخ
لکه زهر!

## سترګې

ستا سترګې زما د سترګو
هغه سترګې دي
چې په دې نړۍ کې
یوازې ستا سترګو ته ګوري
او سترګې غړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صبر

د ژوند ژړه ځمکه مې
هره ورځ د صبر په اوبه پړه کوم
د صبر پولې مې پکې جوړې کړې
د صبر تخم مې پکې کرلی
په دې ښه پوهېږم چې ته نه پکې را زرغونېږې
خو څه وکړم چې دا ساده او مظلوم زړه یې
راسره نه مني

## فلسفه

د ژوند په فلسفه کې مې
نن داسې
څه ولیکل چې نور به
هېڅوک د مینې په نوم
په چا باور و نه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اشنا

نه پوهیږم دا خپل دردونه، دا مات توري
څنګه شعرکړم، څنګه یې غزل او ټپې کړم؟
اوس خو ستا نوم هم زما له حافظې پاک
شوی اشنا
خو یادونه او دردونه دې تل راسره
مله دي

## حس

اې!
ته پوهیږې چې اوس ولې ستا شتون او نه شتون
ماته هېڅ توپیر نه لري؟
دا ځکه چې زه اوس تا په زړه او سترګو کې
حس کومخو نه پوهېږم
چې دا احساس له ډېرې مینې پیدا شوی
او که له ډېرې کرکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نوم

غوښتل مې د ژوند په هره صفحه
کې ستا نوم د زړه په وينو
وليکم
خو افسوس چې قلم هم
ستا په څېر زما ملتيا پرېښوده

## خزان

ژوند مې خزان ته  ورته شو
د بهار د هيلې څرک پکې نه ليدل کېده
د ژوند هره هيله مې
لکه خزان وهلی پاڼه وه
چې په يوه ټکان سره ورژېدل او تالا شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوښکې

اې!
نن مې اوښکې هم په
ژړا شوې دي
سلګۍ مې هم اوښکېتویوي
ان تر دې چې
باڼه مې هم اوښکې وروي
ځکه چې ته راسره
نه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## واورينه مينه

تا ته وايم!
اخر دې ولې زما
سره داسې وکړل؟
ما خو په تا باور کړی و
ته مې خپل ارمان ګڼلې
تا هم زما د سترګو په
هینداره کې ځان لید
زما د زړه درزا سره دې د خپل
زړه درزا يو کړې وه
ما ته دې هم رنګين خوبونه ښودل
ژمنې دې کولې
خو اوس فکر کوم دا ژمنې او دا مينه
دې واورينه وه چې داسې زر ويلې
او فنا شوه
زه له تا پوښتم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ولې داسې وکړل؟
تا خو په زاريو زما مينه غوښته
په ډېر محنت سره دې زما په زړه کې
ځای جوړ کړ
اوس نو ولې داسې کوې؟
ولې دې زما لاس پرېښود او زه دې
يوازې د غمونو او رسمونو په ظالمو زولنو کې
يوازې ترلې پرېښودم؟
اخر ولې؟
زما ګناه څه وه؟
ممکن همدا مې ګناه وه چې په پټو سترګو مې
درباندې با ور کړی و او د زړه له تله مې
درسره مينه کړې وه
او ټول ژوند مې ستا په نوم ليکلی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وعده

ستا هره وعده دا ننۍ واورې ته
ورته ده چې زر له منځه ځي
ويلې کېږي او پايښت نه لري

## قاتل

سترګو ته مې دې اوښکې
په لومړي ديدن کې ډالۍ کړې
زړه دې پخوا رامات کړی و
هغو ماتو ټوټو مې روح پيوند ساته
نن تا زما روح هم ودرداوه
هغه دې وواژه
ټولې هيلې مې دې فنا کړې
اخر ته څوک يې ؟
فقط يو قاتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## توري وريځې

د زړګې توري وريځې مې
په وربښت راغلې دي
خو د باران پر ځاې وينې وروي
وروسته له دې به ټولې کروندې
شين رنګي نه وي بلکه
زما د وينو سور رنګ خپلوي

## اوښکې

د اوښکو باران مې د زړه
ارماني وچه ځمکه خړوبه کړه
خو په پاى کې فقط داغونه اوناهيلي
پکې را زرغونه شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښایسته ماښام

ای!
پرون ورځ دې په یاد ده؟
هغه ښایسته ماښام دې هم یاد دی؟
کوم چې ستوري او سپوږمۍ زموږ
د مینې ګواه و!
هغه رومانتیکه فضا
هغه فضا چې له دود او رسمونو نه ډېره لرې وه
هغه پرونۍ مینه دې یاده ده؟
کوم چې لکه پتنګ د شمعې خوا ته راتلې
هغه هر څه دې یاد دي که د هېر کړل؟
خو زما هر څه په یاد دي چې څنګه دې نازولم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دلاسه به دې نيولم او هرې خوا ته به دې بېولم
خو افسوس چې نن هغه مانښام نه دی
پرون مو يو ځای د مينې کيسې کولې
خو نن ستا د مينې کيسې د اوښکو له ملتيا سره
ستا له انځورونو سره شريکوم
او خوند ترې اخلم
نه غواړم دا احساس هېر کرم
تل به راسره ژوندی وي
تر څو چې ساه اخلم او ژوند کوم
ستا مينه او ستا نوم به زما د ژوند ځانګړي
برخه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پټ احساس

نن مې پټ احساس
د طوطي په شان
ګويا شوی دی
غواړي په چيغو چيغو
ټولو ته ستا د مينې کيسې وکړي
او تا له پاک رب څخه
وغواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مبارکي

نن مبارکي راکړئ
نن يې له پيغورو او دردونکو
خبرو څخه ازاده شوم
اې! بيا هم مبارکي راکړئ
هغه مې هم ازاده کړ
د تل لپاره نور نه غواړم مکاره
او درواغجنه څېره يې ووينم
غواړم ځان
د تل لپاره له دې فريبجنې
نړۍ څخه ازاده کړم
بيا هم مبارکي راکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## روح

اې تاته وايم!
نن چې ته په سفر تللې
روح مې تا پسې په ژړا شو
احساس مې په سلګو او فريادنو شو
ان تر دې چې بې روحه جسم مې
تاپسې سرګردانه منډې وهلې
او ته يې لټولې

## مرورتيا

نن مې اوښکې  مرورې دي
مسکا خو مې لا ډېره پخوا را نه خفه وه
د زړه درد مې هم رانه په کوچېدو دی
خو نه پوهېږم چې يوازې ستا غمونه
ولې وفاداره دي چې تل مې ملتيا
کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زړه ٦

روح او تن مې د زړه نه مني
دواړه په تا پسې لالهانده
ګرځي چې ته به کله راځې!

## خزان

خزان ژوند مې خزان ته ورته شو
د بهار د هيلي څرك پکې نه ليدل کېږي
د ژوند هره هيله مې لکه خزان وهلې پاڼه وه
چې په يو ټکان سره ورژېدله
او تالا شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## موجونه

غواړم نن په دې تنهايۍ کې
ستا د سترګو په موجونو کې
ځان دومره غرق کړم
چې هر درد رانه کډه وکړي

## آسمان

ته مې لکه په سر ولاړآسمان ګڼلې
ته مې خپله ټوله هستېګڼلې
ان ته مې خپل وجود،هيلې، ارمانونهاو مسيحا ګڼلې
خو اوس پوهېږم چېدا زما تېروتنه وه
چې دومره لوړ مقام مې درکړی
ته فقط او فقط بس يو درد او يو
اغزی يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# احساس۳

اې تا ته وايم!
راشه چې احساس مې نور
د مړکېدو په حال کې دی
په ورستۍ شېبې کې غواړي
تا وويني او ستا د بې وفايۍ پيغور
درکړي
او د تل لپاره درسره مخه ښه وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کالبوت

اې!
ته ولې زما سره داسې
دښمني کوې؟
اخر ولې؟
ما داسې څه ګناه کړې ده؟
هر څه دې را نه واخيستل
زما ژوند، زما مسکا،زما معصوميت
زما زړه او روح دې ټول اسير کړل
يو د شعر ليکلو احساس راسره و
چې ستا يادونه او بې وفايې مې
پرې انځوروله او زړه مې
ارامتيا موندله
خو ته دېر ظالم يې اوس دې
د شعر ليکلو احساس هم رانه واخيست
او زما نه دې ګونګی جوړه کړه
زه داسې ژوند نه شم کوی
لکه يو کالبوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اوښکو باران

نن مې زړه ډېر ډک و
غوښتل مې د باران ملتیا وکړم
تر بارانه ډېره ووربدم!
تر اسمانه ډېره و چغېدم!
په زړه کې مې ځړېکې شوې!
ان د زړه په وینو مې د بوډۍ ټال
جوړ شو!
ټول ژوي له سره په ژړا شول
ځمکه ولړزېده، د ونې څانکې ماتې شوې
غرونو هم سلګۍ پیل کړې!
خو افسوس!
یو ته بې رحم وې
چې هېڅ یې درباندې اثر و نه کړ
زما د اوښکو په باران دې
ولامبل او خپله لاره دې بدله کړه
لاړې او شاته دې هم په وروستي
ځل و نه کتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مسافر

نن مې ډېر يادېږې
اوښکې او باران مې سره
يو ځای کړل
د آسمان په لورې مې چيغې کړې
د زړه په وينو مې څو توري درته
وليکل
چې نور زغم نه لرم
راځه نو ډېر مې يادېږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپه

بېگاه شپه مې ستا يادونه
مېلمانه وو
له هر ياد سره دې لکه ماشوم لوبېدم
ستا ښايسته تصويرونه مې
په سترګو کې انځورول او ذهن
ته مې سپارل
سترګې مې نه پټولې ان نه مې رپولې
وېرېدم داسې نه چې دا ښکلې
يادونه او تصويرونه رانه واخلي
خو افسوس چې د سهار رڼايي
په يوه شېبه کې ټول رانه واخيستل
او زه يې يوازې کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لوبه

ټوله شپه مې ستا يادونه لوبول
ستا بې وفايي مې ژړله بالښت
ته مې پناه وړې وه اوښکې او سلګۍ مې
ملتيا کوله بلاخره شپه رڼه شوه خو اوس
نه پوهېږم چې په دې رڼا ورځ کې چېرته پناه يوسم
ستا را لورول شوې اوښکې او درد
څنګه وژاړم د اوښکو توېولو ته هم داسې ارام ځای نه لرم
ته ووايه چېرې لاړه شم چاته پناه يوسم؟
چاته وژاړم او څنګه دا هر څه وزغمم؟

## خاموشي ۴

خاموشي مې نن غواړي په
شاعرانه الفاظو هر څه د
سترګو په رنګېن انځور کې
بيان کړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځوان ژوند

ژوند  هغه و چې ماشومه وم
په ماشومانه فضا کې الوتم
له هر څه بې خبره
معصومانه نړۍ
او له هر څه ښایسته او رنګینه
خو ځوان ژوند داسې یو کاروان دی
چې منزل ته د رسېدو هیله یې نه شته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شعر

ستا لپاره مې نن په ډېره مينه
او اخلاص د زړه
په وينو
شعر وليکه او په سترګو کې
مې ځای ورکړ
اوس نو راشه
سترګو ته مې ځېر شه
او ټول هغه رنګين الفاظ ولوله
چې تاته ليکل شوي اوته يې يوازينی حقدار يې

## دوست او دښمن

اې!
ستا له لاسه مې د باور
سترګې دومره کمزورې شوې
چې دوست او دښمن نه پېژنم
نه پوهېږم په چا باور وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تصویر

ستا تصویر مې په سترګو کې
انځور کړ د زړه په وینو مې
و رنګاوه چې لاپسې ښایسته
شي
ډېر ښه انځور شوی دی
خو د سترګو باران مې دا ښایست
نه شو لیدلی
وورېدې او ستا ښکلې انځور
یې رانه واخیست

## زولنې

د مینې په زولنو مې ټول وجود تړلی و
خوله مې خاموشي خپله کړې وه
خو د زړه له ماتېدو اواز یې چې
واودرېد نور یې د سکوت
دیوالونه ونړول او هر څه
یې ګویا کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غچ

اې!
پوهيږې چې
نن مې مات او رنځور زړګي
غچ اخيستلو ته مجبوره کړم
خو دا بې وزله زړه
په دې نه پوهيږي چې
څوک له خپل زړګي څخه غچ اخيستی شي!؟

## اوبه

ته لکه تللي اوبه داسې
لاړې
بېرته نه را ګرځې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مایوسي

نن مې له تا سره هوډ وکړ چې نور
به مایوسي نه لیکم
تراژیدۍ نه انځورم
اوښکې نه څڅوم
زړه نه دردوم
خو ګوتې او احساس
مې د مایوسۍ سره ژمن دي
دا اجازه نه راکوي

## خزان

خزان مې له زرینو وړانګو
او رژېدلو پاڼو سره
ډېر خوښ دی
ځکه چې زما تصویر
او ژوند انځوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نڅا

تېره شپه سپوږمۍ
او ستوري نڅېدل
ستا د راتلو زيرى
يې راکړ!

## پرخه

ته مې د ګل په څېره کې
انځور کړې
زه لکه پرخه درباندې
ووريدم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ته مې لکه خوږ غزل
په ذهن را وربږي
خو افسوس چې هغه
الفاظ مې هېر شوي چې
تا لکه شعر انځور کړم

## گل

د خاطراتو گلونه دې ټول
ورژېدل او له منځه ولاړل
خو د دردونو او غمونو گلونه دې هېڅ نه رژېږي ځکه چې
د اوښکو په ویالو یې خړوبوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډیوه

د هیلو ډیوه مې د زړه
په وینو بلوله
خو افسوس چې
هغه وینې وچې شوې
ډیوه تته شوه!!!

## تقدیر

په خپل تقدیر پسې مې منډې ووهلې
زارۍ او ګیلې مې ورته وکړې
ان غوښتل مې لاسونه یې ښکل کړم
خو تقدیر راته وویل:
زما نه ګیلې مه کوه دا زما کار نه دی
ستا د تندي کرښې سمې نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لورولې اوښکې

ټوله شپه مې ستا يادونه لوبول
ستا بې وفايي مې ژړله
بالښت ته مې پناه وړې وه
اوښکو او سلګيو مې ملتيا کوله
بلاخره شپه رڼه شوه
خو اوس نه پوهيږم چې په دې رڼا ورځ کې چېرته پناه يوسم؟
ستا را لورولې اوښکې او درد څنګه وژاړم
اوښکو تويولو ته هم داسې ارام ځای نه لرم

## زلزله

ستا بې وفايي د زلزې
په څير زما دزړه هغه ديوالونه
او برجونه و نړول چې
په ګډه مو د اعتماد او باور
پر بنا اباد کړي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خزان

د خزان زرین شمال او طوفان
نن یو ځل بیا زما د زړه
په کور هم راغی او
د ژوند ټولې ښکلې هيلې يې لکه
زیړې پاڼې له ځان سره یوړلې

## دخیال صحرا

د خیال صحرا کې مې نن
داسې گرځېدلې لکه
مجنون په سوې دښته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مرگ

اې مرگه!
ته ماته خپل زور مه را ښایه
اخر ته څه کوی شې؟
ژوند به را نه اخلې؟
خو ما ته کوم توپیر نه کوي
ځکه چې  زه لا په خوا
وژل شوې یم

## کتاب

د زړه په کتاب کې مې
په وروستي ځل د  صبر
 په قلم داسې ولیکل
نور تاپسې اوښکې نه تویوم
ته مې له ذهن او زړه نه و ایستې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سترګې ۴

ته پوهېږې چې د سترګو
سپین مې ولې سره شوې دي؟
دا ځکه چې اوښکو مې
د وینو رنګ خپل کړی دی

## باران ۲

ته مې هېر کړی وې
یادونه دې هم له دې زخمي
زړه کډه کړې
خو نن مې تر سترګو شوې
د باران په لاس دې یادونه راواستاوه
چې زخمي زړګی پرې ټکور کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سمندر

ستا خيال زما د ذهن په سمندر
کې ځان لاهو کړ خو له ډوبېدو
بچ شو ځکه چې
غواړي پرته ستا له خيال او تصوير په ذهن کې بل
څه ونه څڅوي

## منځپانگه

د روح او زړه دواړه منځپانگې
مې دي ولوستل
سر ترپايه سترگې مې ډکې شوې
پوه شوم چې سترگې مې د ښبنلې وې
او خپله تنده دي پرې ماته
او له ځان سره د يو ځای کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مرهم

غواړم د اوښکو په مرهم
د زړه زخمونه ورغوم
د صبر په نغمه يې پوه کړم
د چمبې په خوشحالي ور ډالۍ کړم
غلی ارام ارام وخوځېږم
ورته ووايم
نور نو صبر شه

## خيالي نړۍ

په خيالي نړۍ کې ډوبه له هرڅه بې خبره ومې ويل:
اې کاش الوتلې وی وزرونه مې درلودی
ډېره لرې تللې وی داسې ځای ته
چې هلته د زه او ته کلمه چا نه پېژندلی
صرف دا يې زده وی چې مونږ
يوازې او يوازې مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یاغي احساس

یاغي احساس مې نن بیا
یاغي شوی دی
غواړي خپل زړه صیقل کړم
او تا د زړه تل کې وساتم
د تل او تل لپاره!

## باڼه

باڼه نه ځمبم
غواړم په لوڅو سترګو
لکه په ویښه تا او ستا
ښایسته تصویرونه په
خوب ووینم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پترى

ما اوربدلي و
هر شى چې مات شي پترى كيږي
نو دا زړه ولې نه؟
ولې زړه له ماتېدو وروسته
نه جوړېږي او نه هم پترى كيږي؟

## خاموشي

خاموشي مې يو ځل
بيا په زړه منگولې ښخې
كړې او ستا په ياد كې روح لمسوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه او ته

زه د زړه په سترګو تا وينم
روح او روان مې هم تا احساسوي
خو د ناهيلۍ په تيارې
کې ځان بايلم او مرم
خو د سهار د راتلو او ستا د ليدو
سره سم بېرته ساه اخلم
ژوندۍ کېږم او تا يادوم

## چيغې

انځورونه دې بېګاه شپې
چيغې وهلې خو افسوس چې ما نه اورېدل
ځکه چې زړه او سترګې مې
د عاطفې غوږونه چوپتيا ته سپارلي
نو د چيغې اواز دې تر ما نه رسېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لمر

نن مې خپل نوم د هغه
په ډبرين زړه کې وليد
له خوښۍ مې وزرونه وشول
والوتم تر ستورو او آسمان
له هغه ځايه مې د ستورو
ځلا پرې وشيندله
اوس نو ځکه داسې ځليږي لکه لمر

## د زړه هينداره

ستا په خبرو زما اوښکې وبهېدې
د زړه له هېندارې يې ګرد پاک
او روښانه يې کړ
خو اوس مې اوښکې وچې شوې
د زړه هېنداره مې د غمونو ګرد پوښلې
له تا غواړم چې د تېر په شان مې وژړوې
تر څو د زړه هينداره مې پاکه او رڼه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خوشحالي

خوشحالي مې د ماشوم په څېر
زنګوم تر څو ویده شي
او بیا په ویښه راسره
ملتیا وکړي

## بېلول

ته مې له ځان څخه بېل کړې
بې له هغې هم یادونه
دې راسره دي لکه
سیوری تل مې بدرګه کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلوپ

د زړه زنګ وهلی کلوپ
مې په نورو کیلیانو نه
وازیږي
ځکه چې کلي يې يوازې تاسره ده

## ژمنه

له تا سره مې ژمنه ده
نور به دردونه او غمونه
نه لیکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (الحاج بریالي ګردیوال ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوالې او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دلیکوالۍ چاپي اثار




د خپرونو لړ: ۱۲۲

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**